# پښتونخوا

# Pakhtunkhwa

## PASCHTUNCHWA / PASHTOONKHWA

## د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند خپرونه

## پښتو - الماني - انګرېزي

لومړی ګڼه - لومړی کال - اپريل 1987

Jahrg./Vol.:1987 /1 Nummer/No.:1

Pashto -Deutsch/German - English

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISHEN
PARTEI DER PASCHTUNEN
Paschtunkhwa/ Afghanistan

ORGAN OF THE PASHTOON SOCIAL
DEMOCRATIC PARTY (PSDP)
PASHTOONKHWA / AFGHANISTAN

www.pashtoonkhwa.com

V. I. S.P. / RESPONSSIBLE FOR CONTENTS:


DR. KABIR STORI
HÖNINGER WEG 63
5000 KÖLN 51
WEST GERMANY


## Editorial Board/Redaktion


Ali Khan Mahsood
Hedayat Bangash
Khan SAPI
Shah Jahan




خپرونکی: د پښتنو ټولنیز اولسولیز گوند
پښتونخوا / افغانستان

HERAUSGEBER : SOZIALDEMOKRATISCHE PARTEI DER PASCHTUNEN PASCHTUNCHWA / AFGHANISTAN

PUBLISHER : PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY PASHTOONKHWA / AFGHANISTAN

زمه وار : د وکتور کبیر ستوری

V. I. S.P.: DR.KABIR STORI

RESPONSSIBLE FOR CONTENTS: HÖNINGER WEG 63

5000 KÖLN 51

WEST GERMANY

TEL.(0221) 360 2472

د خپرونی جرگه
REDAKTION
EDITORS BOARD

ALI KHAN MAHSOOD علیخان محسود
HIDAYAT BANGASH هدایت بنگش
HABIB STOMAN حبیب ستومان
KHAN SAPI خان ساپی
SHAHJAHAN شاجهان



سرلیکونه | مخ


| سرلیکونه | مخ |
|---|---|
| د افغانستان لوی ورځ | ۸ |
| په لویدیځ جرمني کې د خان لالا محمد افضل خان د شفرلنډ رالوېدل. | ۲۶ |
| د خیبر بالانو ترو برانډي د خان لالا محمد افضل خان ویناوې | ۲۸ |
| د فرانکفورت په یوه غونډه کې د افضل خان وینا | ۳۴ |
| د خدای بخلي افضل تنګیس په یاد | ۴۶ |
| لوی زړه | ۴۹ |
| شاعرته | ۵۱ |
| د سورپوښانو دود | ۵۲ |
| د لیلا وزر | ۵۲ |

د پښتونخواه خبریال : هدایت بنګښ

# د افغانستان لوی وده

د دې موضوع په حکله د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند نمایندګانو د ګوند مشر ډوکتور کبیر ستوري او د ګوند د مشر مرستیال علي خان د ۱۹۸۷ کال د فرورۍ د میاشتې په دولسمه نیټه په بن کښې د ټولنې فلمه په میلمستون کښې مطبوعاتي کنفرانس وکړو. دغه کنفرانس ته د ختیځ او لویدیځ لوی زیات شمیر خبریالان راغلي وو. د کنفرانس په پیل کښې د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند مشر ډوکتور ستوري خبریالانو ته د هرکلي څخه وروسته د افغانستان د لوی ودې په حکله لنډه وینا وکړه. وروسته د خبریالانو پوښتنو ته د ګوند مشر ډوکتور کبیر ستوري او د ګوند لومړي مرستیال علي خان مسعود ځوابونه ورکړل.

## د ډوکتور کبیر ستوري د وینا متن

درنو میرمنو او ښاغلو!، ځکه وطن افغانستان کښې

هره ورځ بې ګناه انسانان وژل کیږي او هیواد ورځ په ورځ کنډواله
او تباه کیږي. دغه جګړه چې شوروي اتحاد پکښې د خپلو پوځونو
د موجودیت د لارې مستقیمه او د امریکې متحده ایالتونه پکښې د
پاکستان پوځي ډکتاتور د لارې غیر مستقیمه برخه لري او
په دې منځ کښې ئې بین المللي او تجارتي بڼه غوره کړېده نتیجه ئې
دا ده چې د اندیښنې وړ او نقصان ورکوونکې دي.

د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند ـ پښتونخواه / افغانستان
د ډېرې مودې راهیسې د دې نظري نماینده ګي کوي. چې د
افغانستان د ربړې حل یوازې د سوله ایزې لارې امکان لري. او
د پوځي لارې هیڅ امکان نه لري. په دې هکله موږ خپل د سولې
غوښتونه څو ځله د ملګرو ملتونو مؤسسې د نړۍ یو زیات شمیر د
بهرنیو چارو وزیرانو ته د سترو قدرتونو د بهرنیو چارو
د وزیرانو په شمول او د عامه شوونو نامتو شخصیتونو ته
وړاندې کړیدي. په دې منځ کښې په شوروي اتحاد او په
افغانستان کښې لوګمارشتر تابع حکومت کوي. او داسې برېښي
چې دوی هم د سیاسي حل ضرورت پیژندلی دی. څه
موده د مخه د شوروي اتحاد د ګوند مشر ګورباچوف
اعلان وکړ چې خپل پوځونه به ژر تر ژره وکاږي.

که چیرته یو سیاسی حل پیدا شی .

همدغسی د کابل ځینو هم نیمړی وال لوی غبرګونه اوړی - په ډاګه سره د ګوند اوسنی مشر ډاکټر نجیب الله وویل چه ځیلی ترسره شوی ندی . اولس ته د ډوډی په ځای ګولی، د جامو په ځای کفن او د کور په ځای هدیره ورسیده -

ډوکتور نجیب د ملی روغی جوړی او مقاومت کوونکی ډلو ته ئی د شپیږ میاشتنی اوربند پیشنهاد وکړ او د خبرو د پاره ئی بلنه ورکړه

زمونږ ګوند ته هم د ډاکتر نجیب له خوا د نظریو د بدلون د پاره میلمستیا ورکړ شوی ده . مونږ دغه میلمستیا و منله ځکه چه مونږ پدی عقیده یو . چه افغانان باید ه دی چه د افغانانو سره خبری وکړی که څه هم د خبرو ملګری په بله نظریه وی نسبت ځینو ته چه مونږ ئی لرو.

ورو سته د یوی لوړنی کتنی ځینو چه زمونږ د ګوند د یوی ډله کسی او د افغانستان د خلک د ډیموکراتیک ګوند د نمایندګانو تر منځ په کابل کښی د شوره غوایړو چه لوړی خبری یو د بل سره وکړو -

د خبرو د نتیجو پورې وا اړه لري. چې په کومه اندازه سره ګړمکار مینځ ته راتلی شي . د پښتنو ټولنیز او لسولیز ګوند د هغه ټولو پیشنهادو ولوړ هرکلی کوي چه د سولې په خدمت کښې وي . او دې ته انتظار ایستار دی. چې آیا ډاکټر نجیب واقعاً ملي روغه جوړه غواړي -

دې ته ډیره اړه تیاره او مونږ ته یو افغنیي لاره برلیښؤ چه ټکلپښې یا وروسته به پرې سمېږي خانخانې -
ترڅو چه پر افغانستان کښې جګړه پایې ته ورسیږي -

سربيره پر دې ځاپه هيواد کښې د روغې جوړې لفظ کوم پر دې تلی نه دی . روغه جوړه د افغاني عنعنوي ټولنې یو مهمه برخه ده چې جرګه د دې د پاره یوه وسیله ده . د يوې دائمي سولې او روغې جوړې د پاره د هغه رهبرو او بې عدالتیو د منځه وړل لستار دی چې د پخوانی باچاې حکومتونو له خوا مینځ ته راغلي او لا تراوسه حل شوي نه دي د دغه وخت راهسي سیاسي او اقتصادي ځواک دافغانستان ناستون کابل ته راغونډ شوي دی ،

د ښار او د کلیو د وګړو په منځ کښې تضاد ختم دی. د ډیرو اولسونو
په هیواد افغانستان په کوم کښې چه پښتانه، ازبکان، تاجک،
هزاره، ترکمن، بلوڅ او داسې نور ګډ ژوند کوی، نن
ورځ دا ضروری دی چه د هیواد په اقتصادی او سیاسی
ژوند کښې ټولی ټولنیزی ډلی په عادلانه توګه برخه ورکړی.
دا هم ضروری ده چې په افغانستان کښې هرې اولسی ډلی ته
د خپل شمېر سره سم کلتوری او ژبنی حقوق ورکړی شی او دوی
ته د خپلو ماشومانو روزنه په خپله مورنۍ ژبه کښې
امکانات شی، دا باید په نوی اساسی قانون کښې هم ونیول
شی.

د ټولو میرمنو او ښاغلو دا د وخت سخت ضرورت
چې ژر تر ژره پرېکونکی کارونه سر ته ورسیږی
تر څو چه د اولس دردونه پائی ته ورسیږی. تر څو چه
په افغانستان کښې وروسته د اوږو کالو د جګړی څخه
ژوند عادی بڼه غوره کړی کډوال بېرته خپل وطن ته
ستانه شی او ماشومان بل آخره په ښوونځیو کښې زده کړه
وکړی شی - زه دا خبره په ډیره اندېښنه سره کوم چه

ته چیرته او سنی حالت له ډیر دوام ورکړي. لو بیا به نیم لیوال
دیوی بلې رهبرۍ سره مخامخ شي. دغه رهبري حقه ماشومان
دي. چې د کمزورو والو په استوګنځیو کښې په ناخبرۍ کښې لوییږي.
دوئی د بې رحمانه شرایطو لاندې تروند کوي. د دوی د لوبو
وسیاین ټوپک دے، د ټوپک د چلولو سره که دوئ غواړي
او که نه اشنا کیږي. دوی لیواځي وژنه او جګړه پیژني.
لویریات شمشیر د دوئ د جګړې د زخمونو له امله ګوډ او شل
شوي دي. بې له راتلونکي د امید څخه په غمونو او اندېښنو کښې لوییږي.
دغه د ځوانانو ټول حقه ځواک دی لکه څنګه چې په ثبوت رسیدلی ده له
اوس نه داسې د هدف ډله ده چې په شعوري توګه دایمه ماماڼ روزل
کیږي. دلته یو ډیره خطرناکه سلسله پیل شوي ده. مونږ په ټولو
کښې د ټولو سوله غوښتونکو انسانانو څخه د اهیله کوو. چه زمونږ
په ملاتړ سره په دوامداره ستر و قدرتونو زور او فشار راولئ ترڅو
چې یو آزاد، خپلواک، ناپیلي او سوله ایز افغانستان مینځ ته راشي.
مونږ د خپل اولس د پاره د اهیله لرو چې د شوروی اتحاد د ګوند
د مشر دا خبره چې خپل پوځونه د افغانستان څخه زر تر زره
وکابزي او د افغانستان د ګوند د مشر ډاکتر نجیب

درومی جوړې پېښه فساد او س د عمل جامې واغوندي .

درنو میرمنو او ښاغلو تاسو څو نیز سره په دې توګه

هر ستره سرته ورسوی چې په خپلو خپر دو لو کښن تل

بیا بیا د افغانستان رهبری ته کوته ونیسي .

افغانستان او د هغه ځپل شوي انسانان نور

دې ته مه پرېږدی چې وو ژل شي .

ستاسو د علاقې او پاملرنې څخه ډېره مننه .

پوښتنه :- ښاغلی ډاکتور ستورېه، دلته څرګند

شته دی چې نجیب الله او د هغه د همکارانو سره

ئې د نظریو بدلون کړی وی . زه غواړم چې پیدا ی

شوه شم چې ستاسو او د کابل د حکومت په منځ

کښې کوم تو پیرونه او کوم ګډه تکلی شته دی .؟

علي خان محسود :. زه د ۱۹۸۶ کال د نومبر د دوهمې نیټې

څخه تر پنځلسمې نیټې پورې په کابل کښې وم .

هو نیز د ګوندل د مشر ډاکتور نجیب ، د قومونو

او قبایلو د چارو د وزیر سلیمان لایق او

د سیاسي دفتر د غړي خیبري او د لوړو

بسره خبری کیږي.

نو موږ وګورو او په افغانستان کښې د حکومت کوونکي ګوند د نظریو اختلاف پیدا کړي دي چه موږ پدې عقیده یو چه تر هغو پورې چه شوروي عسکر په افغانستان کښې وي د غه د افغانانو د پاره یو اصلي ربړه ده. موږ داسې غوښتنه وکړه چه شوروي عسکر د افغانستان څخه هر و مرو ووځي.

موږ دا خبره هم ښکاره څرګنده کړیده چه افغاني ملتونه دې ته تیار نه دي چه کلاسیک سوسیالزم ومني. سوسیالزم یوازې د انسان هیله نه ده بلکه یوه تاریخي پروسه ده.

زه پدې عقیده یم چه پدې منځ کښې شوروي لوحان او هم په افغانستان کښې واکمن پدې پوهیدلي دي چه داسې د اول څخه سمه نه وه چه د ختیځې اروپا ماډل په افغانستان کښې عملي شي

دوئ پدې هم پوهیدلی دی چه د ځمکی ویش یوه
غلطی وه. کیدای شی چه په شمالی افغانستان کښې د
ډیرو ځمکو خاوندان وی خو پکتیا او ننګرهار کښې نشته
دی. بلکه دا چې دوی په کومه مېړی سر کښې غوښتل چه کټه
مټ مارکسستی لیننستی نظریه عملی کړی. خو اوس
پدې پوه شوی دی چه د دغه نظریه دومره قوی کیدای
نه شی. لکه څومره چه کورنی او قومی اړیکی دی.
د مثال په توګه په پکتیا کښې که د چا ځوی کمونست
و او پلار ئې کمونست نه وُ او پلار ورته وویل
چه راځه اوس موږ نډ کډه کوو نو ځوی ئې مجبور وه چه
ورسره لاړ شی.
د افغانستان د ګوند مشر نجیب موږ ته وویل چه
دی غواړی په افغانستان کښې واقعی سوله راولی
موږ ده په خبرو داسې پوه شوی یو چه
دی د افغانستان انقلاب ته کوم مارکسستی
لیننستی انقلاب نه وائی بلکه یو ملی ډیموکراتیک
انقلاب وائی.

په ملي ډیموکراتیک انقلاب کښې د لغړي له منځه لګړي د ملي
د ملي پاڅنګه وال څخه نیولې تر کوچنې دوکاندار پورې
برخه لري.

کوچنیز په تیره بیا امریکایان د پاکستان د ډکتاتور
ضیاء الحق د لارې ځغه کمرکه تقویه کوي. چه نه غواړي
د افغانستان څخه د شوروي پوځونه ووځي. چه دې
منځ کښې د وی تجارت او دوکانونه پرانستل دي که
د شوروي پوځونه ووځي نو د دوی کالونه هم ښه بیرې په دغه
دوکانونو او تجارت کښې د پاکستان بیروکراتان
په اصطلاح د ګډ والو کمشنري او افغان ملاګان برخه لري
موږ چه دې عقیده یو چه کوربا چوف نسبت چرننکو
او یا بریژنیف څخه بالکل توپیر لري. موږ په دې
عقیده یو چه کوربا چوف غواړي چه خپل پوځیان
د افغانستان څخه وکاږي - خو د کوربا چوف څخه
مخکنیو مشرانو د اغلطي کړیده او اوس کوربا چوف
خپل پوځونه وکاږي خو بیلدې نه چه سپک شي.
د پښتون سوشل ډیموکریټک ګوند یو منځنی ګوند
دی چه پوښلو اک افغانستان غواړي.

ملایان دافغانستان په حکومت انتقاد کوی خو فیصله د آیات الله
خومایني په شان د لا پسې افراطی بنمی حمله کوی. چه
دافغانستان اولس د پاره د منلو وړ نه ده. مونږ نجیب
ته وایو چه ملا سیکولر لاره سمه نه ده او ملایانو ته وایو
چه خومانیزم سمه لاره نه ده. مونږ د یوه مترقی
سوسیالزم مخه مله د ملا په شان نه نیسو.
مونږ دا هم نه غواړو لکه څنګه چه کمونستانو په لومړی سر کښې
غوښتل چه افغانستان ته بیلدی نه چه د دغې ټولنې جوړښت
په پام کښې ونیسي شر ته تغییر ورکړی. مونږ نه عصری
وخت او نه اسلام ته ردوو. اسلام د زړو کالو را
هستی د غلته پاتې شوید ے او اوس نه مونږ د
ملتونو لوه برخه ګرځیدلی ده. مونږ د خدائی او د
رسول سره جګړه نه لرو. نه مونږ جګړه د بیرته
پاتې والی، بی سوادی په ضد او د اولس د
هوسائی د پاره ده. نجیب مونږ ته څرګنده کړه چه
دوی د دین په ضد ندی خو چی په لومړی سر کښې
شویدی حقه شویدی. پلا ی تګلو کښې هغوی
نه مونږ سره کوم اختلاف نلرو.

د خلک د دیموکراتیک ګوند لمړنو کسانو چه زمونږ
سره خبری کړیدی مونږ ته ویلی دی چه دوی
غواړی چه د شوروی لښکرونه وړنی ملک چه بهرنی
ګوتی وهنه بندی شی . پدی شکله مونږ هم خبری
کړیدی چه بهرنی ګوته وهنه ځه ته والی . دوی
وویل چه ملک چی په پاکستان کښې د لوږنی تمرین
ځالونه بندی شی - امریکایان ، پاکستان او ایران
مونږ ته دوی ضمانت راکړی چه ملاګانو
ته وسلی نه ورکوی او افغانستان ته ئی
نه رالیږی

**پوښتنه** :- تاسو په افغان اولس کښې تخیله څپل قوت
څومره اتکل کوی ؟

**ستوری** :- مونږ د یوه ملی آزادی بخونکی غوره ځنګ
یوه برخه یو - چه زمونږ د ملی مشر غفار خان
" فخر افغان " په عنعنه ولاړ دی سر بیره
پردی د ګوند ولو تاریخ او دود په افغانستان

کښې ډیر لږ دی او ځوان دی په لومړی سر کښې په
افغانستان کښې صحیح گوندونه نه وو. کله چه گوندونه منځ ته
راغله نو بیا دوی ته اجازه نه وه که څه هم د باچاهی
په وخت کښې مونږ یو پارلمان درلو خو پارلمانی
ډیموکراسی نه وه. د داؤد په وخت کښې دغه
پارلمان هم بند شو. او یوازې یوه گوند ته
اجازه ورکړې شوه چه د داود هغه گوند و او د "ملی غورځنګ"
نومیده. د داؤد د منځه تلو په ثبوت ورسوله چه
په افغانستان کښې یو گوندیز سیستم چلیدی
نه شی او که نه نو د داؤد د "ملی غورځنګ"
گوند به چلیدلی وی.
په افغانستان کښې یو ستر قدرت ملکان او
خانان وو او یا تر اوسه پورې دی. کله چه یو
ملک او یا خان نسبت یو گوند ته ډیر څه کولی
شی. خو کله چی زمونږ په گوند کښې ملکان
او خانان د منورینو سره یو ځای کار کوی او
راټول شوی دی. نو مونږ په افغانستان

کښې او هم په کوزه پښتونخواه کښې د خپل ګوند د
پارټه بنه چالس پراخ بنسټ او راتلونکې
وینو۔ زمونږ ګوند هم په کوزه پښتونخواه او
هم په بره پښتونخواه یا افغانستان کښې غمری
سری۔ زما ملګری علی خان د کوزې پښتونخواه
او زه د افغانستان یم۔

**پوښتنه :-** ګله چه تاسو په پښتو د ومره ډېر ټینګار
کوئ نو په ځان هزاره، تاجک، ازبک
او بلوڅان بې اعتماده کوی نه؟

**ستوری:-** نه، ما خپلې وینا کښې هم تاجکو، ازبکو،
ترکمنو، هزاره او بلوڅو ته د حقوقو ورکولو
غوښتنه کړېده۔ د دغه لږه کیو (اقلیتونو)
حقوق د باچاهی په وخت کښې لوټ شوی دی.
ګله چه سمری واقعاً د مسلې ر وغښې جوړه ی تحمد
خبرې کړی نو بیا ارسما ر ده چه خاخا دغه
لږه کیو ته خپل جمهوریتونه (ریپبلکن) ور کړی شی
تر څو چې خپل ماشومانو د خپله مورنی ژبه

ور وړاندې شی . په مطبوعاتو کښې هم بايده دی
چه دوی ته ځانګړی برخه ګوښې ګوښې ورکړ شی .
زه پدې پاندې ډير افسوس کوم چه د ډيلو
شمير دغه برخه کیوشا با لا دلیک ټربه نده ګرزیدلی
دوی د چاره پلټاړ دی چه کارونه تر خوږې
دوی ځ قبیل ملتوری او ژبنی هویت وساتلی شی



**پوښتنه** :- نجیب الله د افغانستان څخه د شوروي پوځونو د
وتلو په باره کښې په مشخصه توګه څه ویلي دي
کله او په څومره موده کښې چې دی هغله څه فکر کوي ؟

**علیخان محسود** :- ما د نجیب الله سره چې د هغله خبرې کړې دي.
یو پیشنهاد د پاکستانیانو یا ضیاءالحق له خوا دی - چې
وائي . په درو یا شپږو میاشتو کښې دې د شوروي
پوځونه د افغانستان څخه ووزي . دا تمام امکان نلري
دا یو غیري عاقلانه پیشنهاد دے . ځکه چې په کابل
کښې دوی د پاره په او سنی وخت ادارے او تشکیلات
نه شته دي . کله چې ټول د تشکیلاتو او ادارو
څخه دری ملیونه افغانان په دومره لنډه موده کښې
افغانستان ته بیرته راشي نو ګډوډي به جوړه شي
د غه ګډوډي به د آخرنو الو کالونو څخه زیاته وي.
ډاکټر نجیب وائي چې د شوروي پوځونو د وتلو د پاره
د ۱۸ میاشتو څخه نیولې تر ۲۰ میاشتو پورې
وخت پکار دي . د تخنیکي پلوه دا داسې
کیدی شي چې هر څومره د پوځي تمرین ځایونه تړل

کیږي په حضور مره اندازه سره د شوروي پوځونه
به وزي او یا هم دغه تناسب به کم والی بیرته
خپل وطن ته راځي تر څو چې د حکومت د وسله
والو ډلو په وړاندې چه ضروري مرستي ور سره سرته ورسوي.

**پوښتنه** :- ایا دغه ستاسو د معلوماتو له مخې حقیقت موږ ده
ده چه شوروي یان به ئې هم ومني -؟

**علیخان مسعود** :- زه داسې ګمان کوم چه شوروي یان به خپل
پوځونه د افغانستان څخه وکابزي خو دومره
ژر نه بلکه څنګه چه پاکستانیان ئې غواړي
خو زمونږ د ګوند دپاره دا مهمه ده چه د شوروي
پوځونه ووزي او یو خپلواک افغانستان
منځ ته راشي .

شوروي اتحاد زمونږ ګاونډی ملک دی
او مونږ نه غواړو چه د شوروي اتحاد سره تل
دپاره په دښمنۍ کښې اووسیږو او دا هم غواړو نه
چه افغانستان د شوروي په ضد یو حصه
وګرزي .

**پوښتنه** :- تاسی وویل چه نجیب د دغه ملګری پدی پوه شویدی
چه مارکسیزم لنینزم افغانی اولس کم نه کمه په اوسنی
وخت کښی نه منی . او اوس دوئی وائی چه ملی
دیموکراتیک انقلاب کوو . ستاسو په نظریه دوی په دغه
عقیده شویدی . او که یو سیاسی تاکتیک دی .
چه بل نوم ورکول غواړی او هماغه ایډیولوژیکی
بنسټ او هدفونه پرمخ بیول غواړی . ؟

**علی خان مسعود** :- په لومړی سر کښی دوی ځانونه غټ کمونستان
ښودل او ملګری ئی کاوه چه کمونیزم به راولی خو پدی
منځ کښی دوی پدی پوه شویدی چه کمونیزم یوازی
د هوړا هوړا ناری ندی .
پخوا دوی په نظری پړاو کښی و کله چه دوی عمل
پړاو ته ورسیدل دوی ولیده چه دغه کار ترسره
کیدل نه شی . زه داسې ګمان کوم چه دوی پدی
عقیده پیدا کړیده چه په افغانستان کښی یوازی
یو ملی دیموکراتیک انقلاب امکان لری . دوی
پدی پوه شویدی چه افغانستان یو بیرته پاتی هیواد
دی چه په سلو کښی "۹۰" وګړی بی سواده دی او د لسو

زړو څخه زیات تاثیر نلري. همدغسې یو تن شوروی
پوهاند هم ویلی دی چه په افغانستان کښې په اوسنی وخت
کښې کلاسیکي سوسیالیزم امکان نلري. زه پدی عقیده
یم چه سر د اول څخه شورویان دومره د ګمرندی تګ
د پاره نه و. ما د فالین (Falin) یوه مرکه لوستلې ده
چه هغه ویلی دی چه دوئ افغاني ملګروته د دی مسله
ورکړی ده. چه د ګمرندی تګ څخه څه ورکړی خو اوس
د درک کړیده ځکه چه نجیب یوازې په کابل کښې پاتی
شوی ندی. د نجیب پلار په پېښور کښې وکیل تجار و
نجیب و پکتیا دی. نجیب د کابل په حال هم پوهیږی
نجیب پدی هم پوهیږی چه کوزه پښتونخواه کښې څه
حال دی. پښتنامه د لتش په نامه جمیورند کړښی صفه
خواځه حال نری. قومی جرګه څه مانا نری. نجیب د ښار
په حالاتو هم پوهیږی. نجیب د غه وری امتیازونه
نری. زه پدی عقیده یم چه دی واقعاً ملی دیموکراتیک
انقلاب غواړی. ځکه چه واقعیت داسی دی چه سوداګرو
ته ئی آزادی ورکړی ده. دوی ډله ایز شوی ندی.

هر څوک کولی شي چه دوکان پرانیزي، هر څوک کولی شي
چه مالونه ولیږي او پائی را وغواړي. ځه داسې
فکر کوم چه چیرې او سني وخت کښې نسبت باچاهي
وخت نه سوداګر ډیره آزادي لري.

**پوښتنه**:- تاسې د دې د پاره یاست چه کډه وال بیرته خپل
وطن ته لاړه شي.؟

**علی خان محسود**:- هغه خو پدې شرط سره چه شوروي اتحاد چې څه
وائی هماغسې وکړي چه خپل پوځونه وکاږي او ملي
روغه جوړه هم په وړاندې لاړه شي. نجیب د کډه والو
پرمخ دروازې ونه تړي بلکه په اقتصاد او سیاست
کښې هم ورته برخه ورکړي. ترڅو نه داسې نه وي
نو نجیب هم پاتې کیدی نه شي او بل څوک هم پاتې کیدی نه
شي. همدغسې شوروي اتحاد به ډیره موده د
افغانانو سره اخته وي. دا یو مثل دی چه افغانان
په زورو سره جنت ته هم نه ځي خو په خوښه دوزخ
ته تیار دی. بله خبره دا ده چه پښتانه لیوانزی په
افغانستان کښې نه بلکه په سنګلته پښتونخواه کښې
هم غواړي چه د افغانستان جګړه پای ته ورسیږي.

په اوسني وخت کښې پښتانه په کابل کښې او پښتانه په
پښتونخوا کښې د ایوان ني امکان وینې چه د امریکا ګوټې وهنه
پالې ته ورسیږي او شوروي پوځونو ته د بېرته تګ
امکانات برابر شي که چرته شوروي پوځونه لاړ نه شي
نو ښکلې د افغانانو سره دې هر وخت تېرې کار اخستلې
شي کله چه شوروي اتحاد دوکه وکړي. خو مونږ پدې
عقیده نه یو چه شوروي به لنډ فکر وکړي او بین المللي
پرستیژ به د لاسه ورکړي. د افغانستان جګړه کومه
اسلامي جګړه نده بلکه افغاني عنعنه ده. مونږ له
مسلمانانو نه و چه لوی سکندر ته مو ماتې ورکړه.
ترصفه چه پښتانه وشل شوي دي په سیمه کښې سوله امکان
نلري. محمد عثمي د داؤد د منځ نه تګ سبب داؤ چه
داؤد دې صحنه وکړه چه د پاکستان د حکومت
ج سره د ګډ کار دلارې د پښتو ربړه د
منځې یوړې کړي محمد عثمي اوسني حکومت او راتلونکي
حکومت نه شي کولی چه د غه ربړه د منځه یوړې کړي
پښتون سوسیال ډیموکراتیک ګوند د دوایمو

خواړۀ نمائندګی کوی . موږ پدې عقیده یو ترڅو
چې پښتانه یوځای شوی نه وی سوله نه په کابل
کښې او نه په پښاور کښې امکان لری . کله چه په پښاور
کښې څه وشی په کابل اغیزه کوی او څه چې په کابل
کښې وشی پښاور بې اغیزې نه دی .

**پوښتنه :-** که چرته په افغانستان کښې د پارلمان داسې
ټاکنه وشی لکه څه موده مخکښې چه د المان په اتحادی
جمهوریت کښې وشوه . تاسو ستاسو ګوند به په
شلو کښې څو رائی واخلی .

**ستوری :-** دا ودی پوری ایمه لری , چه څومره ګوندونه
په ټاکنه کښې برخه لری دوه وی که دری اوکه لس .
سربیره پردی دا ودی پوری هم ایمه لری چه
زموږ ګوند حلقه څومره سنګاره فعالیت کولی شی
اوکوم امکانات لری په اوسنی وخت کښې زموږ ګوند
په افغانستان اوکوزه پښتونخواه کښې پټ فعالیت
کوی . دا چې زموږ ګوند د افغان اولس د ډیرو کی دهیلو
او ارزوګانو نمایندګی کوی نو په یوه ازاده ټاکنه کښې موږ ذریانو
رائیو د ګټلو انتظار کوو .

**پوښتنه:** - تاسې د ملایانو د ریز د روغې جرګې په هکله څنګه ګڼئ؟ - یو برخه د دوی د روغې جرګې په ضد ده او د کمونالو د بیرته تګ مخه نیسي - ؟

**ستومانی:** - مونږ د هر ډول زور په ضد یو او هغه کسان چه د کمونالو مخه نیسي چه بیرته خپل وطن ته لاړ شي غندو - افغانانو ته بایده دی چه د دې امکانات ورکړي چه خپل راتلونکی پخپله وټاکي او داسې وټاکي لکه څنګه چه یې غواړي - تر مونږ د اصیله د دې زور زیاتی پای ته ورسیږي. مونږ د دې حق لرو چه یو ځل په سوله کښې ژوند وکړو. اته کاله ډیره موده ده - مونږ د سولې ډیره هیله هند یو - لدې امله مونږ ټول پدې ټینګار کوو چه ملتونو خاوې بایده دی چه د دغه سولې ملاتړ وکړي. مونږ د اصیله د نړې د ډیموکراتانو نه هم کوو - د افغانانو څخه مونږ غوښتنه کوو چه د دغه امکاناتو څخه کار واخلي او خبرې اترې وکړي - خبرې اترې د کمونو مانا نه لري خو ممکلبنې له ممکلبنې څخه د دغه لارې بندول لپکار ندي

نن وي که سبا وي پدې لاره به روان يو که چرته
موږ خپلواک افغانستان غواړو او مجبور يو چه
يوځاى شو ونډ وکړو او مجبور يو چه پخلا شو.
دا حالت ډير دوام کولی نشي ليوانى زياته
وينه به توى شي.

**پوښتنه** :- تاسې د پاکستان د حکومت د رژيم د ملي روغې
جوړې په هکله څنګه اټکل کوى؟

**ځواب** :- د هغه وخت راهيسې چه د افغانستان رهبري
منځ ته راغلې ده نو د پاکستاني جنرالانو غوښتنه
شوې ده او که نه نو جنرال ضياء الحق به اوس نه وي.
دغې رهبرۍ دی شوروندی ساتلی دی. که چرته دغه
رهبره حل شي نو بيا د دې احتمال شته دی چه جنرال
ضياء الحق او د ده ډکتاتوري رژيم هم په څو مياشتو
او يا لږو ورځو کښې د ختمې لاره شي. پاکستاني
جنرالان د افغانانو ډيموکراتيک او ملي ګوندونو ته
اجازه نه ورکوي. ليوانى اسلامي ډلو ته اجازه
شته دی. کله چه ليوګيوالي پاکستان ته راشي

تو مجبور دی چه د یوی اسلامی ډلے غړی شی
او که نه نو په پاکستان کښے اوسیدلی نه شی
ددی اصله په سلو کښے ۳۰٪ کډوال لا تر
اوسه نړی ثبت شوی - ځکه چه دوی نه غواړی
چه د دغه ډلو غړی شی - دغه کومی نظریاتی
ډلی نړی - دغه جبری تشکیلات دی چه په
اوتوماتیکه توګه سړے مجبور دی چه د دغه ډلو څخه
د یوے ډلی غړی شی - کډوال په ډیر خراب
حالت کښے ژوند کوی که څه هم دوی د پاره شرائط
برابر شی چه په دوی سره ډیر ته افغانستان
ته لاړ شی - دا زمونږ ارزو ده دغه کډوال
باید ده دے چه حلقه خدمتګاران نه وی دوی باید
دی چه دغلته په سیاسی ایکټوټیز او اقتصادی ژوند
کښے برخه ولری. دغه همدغه شان افغانان دی
ملکه نجیب او نور افغانان دوی باید ه دی چه په
سیاسی قدرت کښے برخه ولری. دوی باید ه دی چه په
اقتصادی قدرت کښے برخه ولری. بیا نو سړی د
روغی جوړی او ګډ ژوند څخه خبری کولی شی -

خبریال. هدایت بنگښ

# په لویدیز جرمني کښې د خان لالا محمد افضل خان د سفر لنډ رپوټ

په لویدیز جرمني کښې د پښتنو د لیکوالانو، شاعرانو او مشرانو په بلنه خان لالا محمد افضل خان د ۱۹۸۶ع کال د نومبر د میاشتې په ۲۱ نیټه لویدیز جرمني ته راغی. د فرانکفورټ په هوائي ډګر کښې د ده هر ملي ډګوندي غړو او مشرانو او کښي شمیر نورو پښتنو ښه راغلاست وکړو.

خان لالا محمد افضل خان د لویدیز جرمني په مختلفو ښارونو کښې د پښتنو د لیکوالانو، شاعرانو ګوند د غړو او نورو پښتنو سره د غبرو اترو سربیره د لویدیز جرمني پارلمان د وکیلانو، سیاستمدارانو، د ایمنیسټي انټرنیشنل د نمائندګانو، د مطبوعاتو او عامه نړوند و نامتو شخصیتونو سره لیدنې کتنې او د نظریو بدلون وکړو.

د ۱۹۸۶ کال د نومبر د میاشتې په ۲۹ نیټه د خان لالا په ویاړ د پښتنو د لیکوالانو او شاعرانو ګوند له خوا په فرانکفورټ کښې عمومي غونډه جوړه

شوی وه چه په لویدیځ جرمنی کښې ګڼ شمیر او سیدونکو پښتنو

پکښې ګډون کړی و.

دی په هالینډ کښې دیوشپې څخه وروسته

انګلستان ته لاړه. په انګلستان او سعودیه عربستان

کښې دلبر. څه تمید وڅخه وروسته پښتونخواه ته ستون شو.



خان لالا محمد افضل خان

( لویدیځ جرمنی، نومبر ۱۹۸۶ )

# د خبریالانو وړاندې د خان لالا محمد افضل خان وینا بې بې ۴ / ۱۱ / ۸۶

زه د پښتنو د ملتونو اولسو لیډرانو د لویدیځ آلمان
د مقیم مشرانو په میلمستیا آلمان ته د یو پښتون
سیاسي کارکن په حیث په دې غرض رابلل شوی یم چې
زه پښتون قوم د کوم آفت او تباهۍ سره مخامخ دی
د هغې د حل کولو او د لارې د ویستلو د پاره ورسره خپلو کښې
جرګه او مرکه وکړو ،
د لوړه غور او تفصیلي بحث نه وروسته مونږ په دې
نتیجه ورسیدو چې دغه مسئله صرف د پښتنو مشرانو
په جرګه حل کیدای شي . د بد قسمتۍ نه پښتون قوم
انګریزانو په خپل استعماري دوره کښې په ټکړو کښې ووېشلو
او نه یوازې دا چې پښتون قوم ئې په جغرافیائي طور
تقسیم کړو بلکه د پښتنو په ملتونه کښې ئې یو استثماري

نظام رائج کړو او طبقاتي تفاوت او نفرت پیدا شو.
د دې خرابې د لرې کولو لپاره باچاخان د مشرۍ او
ښې پرښتنې لاندې د خدائي خدمتګارانو تحریک په
کلنو باندې مشغول. باچاخان خپلې طبقې له عزت او
احترام ورکړو - او دا ئې ورته وکړه چې "له ښځو ته
وې او که پوره وې په شریکه به وي" کوشش وکړو -
او اوس د دې نظام د نتیجه ورکولو لپاره د ثور انقلاب
په عمل کښې راغی او مونږ ئې د ډیرو ښو نه لاسته نه د دواړو
غاړه پرلتو پښتنو دا انقلاب د پښتون قوم او د
ښېګړې د ابادۍ او ښو کالو لپاره ئې یو پال لتولو او کړو.
خو متأسفانه د دې انقلاب ښه ښه شته نی د ښترو
قدرلتولو ښیاښت هم زمونږ په خاوره به شدت
ښه په حرکت کښې راغی.
نتیجه دا شوه چې د ابادۍ لاره لوطرفته شوه او د
پښتنو وینه بې ښاره توئیدل شروع شوو. شپه ئې
ورانه شوه او ورانیږي د لوړو ګانو ما شوما لو ځوانانو

او د ښځو وينه توئ شوه او تويږي . روغتونونه ښونځي
او نوري قومي ادارې په بمونو والوزولې شوې او داوړ
لټ شوی . دغه شان پښتونخوا وړانه ويجاړه شوه
که څه هم دا اعلانات هر وخت همدا عالمي قوتونه
کوي چې دا مسئله په ټوپک نه حل کيږي دا صرف
د خبرو د لارې حل کيدای شي خو ددې باوجود
شامراجي قوتونو د پښتنو سيمې ته مهلک او لوی
وسلې چې صرف د تباهۍ او بربادۍ باعث جوړيدی شي
د خپلو اغراضو لپاره راستوي او اوس دا تباهي
په پاکستان کې د ابادو پښتنو خاوري ته هم را
اوختله ، هره ورځ بمونه خلاصيږي او په شلګونو
بې ګناه خلک قتليږي ، ژوند په کور ، روغتون ، ښونځي
او تفريح ګاه کې هم محفوظ ندی .
بدی لړ کې چې کوم مذاکرات امريکا او شوروي
اتحاد کړي دي او کوي ئې او په خاصه توګه داقومي
متحده په وساطت (ميخ کرتوب) نامتخاصمو دا خبرې

اتری د پاکستان او افغانستان د نمایندو کالو ترمینځ
کیږی د دی لوی لوی مونږ مرسته کوو او د قدر په سترګو
ورته ګورو . خو مونږ په خیال د دی بهترینه د حل لاره
دا ده چی د پاکستان په صوبه پښتونخوا کښی دا بادو
پښتنو د خدمتګارانو نه کار واخستلی شی لوډا -
مسئلو ته حل کیدای شی .

دلته د ستاسو په ذریعه د عالمی امن او پیوستون
د اصولو په لړ کښی په سترو قوتونو دا زور اچول
غواړم چی هغه په پاکستان او افغانستان دا
اثر واچوی چی هغوی دی ته تیار شی چی د صوبه -
پښتونخوا د مشرانو نه د یو ثالث په حیث کار واخلی
چی هغوی د افغانی ګټی والو د مشرانو سره د دی -
مسئلی د حل لوړو لپاره جرګی او مرکی وکړی او
بیا د افغانستان د واکمنانو سره خبری اتری وکړی
او د دی مسئلی لپاره یو باعزته د حل لاره راباسی
د پښتنو تاریخ په دی شاهد دی چی ټول عمر د پښتنو

کړکیچنې معملې صرف او صرف د جرګې په لاره حل شوي دي
دا لار زما په خیال د دې مشکلې د ژر حل کولو لپاره
به د طولونه زیاته مؤثره وي. ځکه چې دلته فریقین
هم افغانان او پښتانه دي او ثالثان به هم پښتانه
وي چې شریک نسلي، مذهبي، ژبني کلتوري تاریخي
جغرافیاوي او اقتصادي وحدت لري.
دلته دا ویره ده چې که د دې مشکلې حل او نه د شو
نو بیا چې په کلونو افغانان په خیمو کښې بې وسه ژوند
تېر کړي دلته به په یو داسې نسل ځوان شي چې هغه
به د مایوسیو او محرومیو په ماحول کښې رالوی شوي
وي او داسې به هغه د خیمو د لوی شوي فلسطیني -
نسل نه زیات راډیکال وي.
دا به نه یواځې د پاکستان او افغانستان د
سیمې د امن لپاره لویه خطره وي بلکه د عالمي
امن لپاره به هم نه حل کېدونکې مشکله شي.
زه یقین لرم چې دغه کړکښې به ښتا ښو اثر او

رسوخ دې پرڅه وکړی شي.

زه یقین لرم چې تاسو د خپل ذریعهٔ ابلاغ په نړۍ عالمي رای عامه دې ته په مؤثره توګه را ولړزولی شئ چه دا مسئله د جرګې په ذریعه د خبرو اترو او آمن په لاره حل کړی شي.



د خان لالا محمد افضل خان مطبوعاتي کنفرانس په بن کې (۴/۱۱/۸۶)

# د فرانکفورت په لویه غونډه کښې د افضل خان وینا

(خبریال شید عارف)

افضل خان لمړی تر هر څه د خپلو ښارانو تا دوه سلو نه د المان پښتنو ملګرو ته ورسول . او وئې ویل چې زه د یو ګوند غړي په توګه چې عوامي نشنل پارټۍ ده دلته راغلی نه یم بلکه د خپلو پښتنو ورور په حیث حاضر یم. ده وویل زه همیشه دا خبره کوم چې زه دلته میلمه نه یم او ځوانانو کوم ورونه چې د افغانستان نه راغلي او ځوانان سره هلته اوسیږي او وائې چې زه مهاجر یم . نو مونږ ورته وایو چې ته مهاجر نه یې دا د پښتنو لیمه کور دی او ځکه پښتنو نن خوار او زار دي چې دا وحدت نشته . نن چې زه کومې غونډې کې حاضر یم حقیقه په فرانکفورت کې ده ځما د خوشالۍ انتها ده ځکه په دې غونډه کې د پښتنو د وحدت تخم اینبودل شوی دی زه د PSPD د ښارانو نه خوښه کوم چې ددې موقع ئې ساعده کړه چې زه د پښتنو ملګرو سره وینږم او په ګډه مسلو نجوته ورسیږو .

مونږ ناخبری په تنزل او زوال کې وساتلو او د پښتنو د تباهۍ سبب دی مونږ پښتون اباد او آزاد غواړو عظمت او په خپله خاوره کې ئې خپل حاکمیت غواړو . مونږ څوک چې د کوم ځایه راشي د هغې حاکمیت نه غواړو بلکې دا به زمونږ د زوال نښه وي . پښتانه تر اوسه په خپله ژبه لیکل نشي کولی او دا ځمونږ د ناکامۍ

علت دی . پښتون داسې نه وو پښتون دخپلې ژبې او ملتو رسره

دومره مینه ده چې هر وخت ئې په پښتنولې سرورکړی او دهر عظیم او

غښتلي دښمن سره ئې ټکر کړی . مثال ئې انګریز هند فتح کړ د انګریز وینه

تویه نشوه هو دلته داسې تود رپاتی نشو داسې کلیمه و پاتی نشو چې

هلته دی دپښتنو او انګریزانو وینه نوی نشي انګریزان تر کابله لاړه

هو کله چې ژمی شو نو لو دالتر برایدن یم ژوندی راووتو .

انګریز دې غرګر سرحد قایم کړو یوه کرښه ئې راکښوده ددې کرښې د لاندې په

علاقې نه ئې رعیت په انګریزی کې Settle Area ورېل

چې پدې کې انګریزانو خپل نظام تعلیم او خپل قانون په پوره توګه نافذ کړو

ددې کرښې نه بره ئې یوه بله کرښه راکښنو ده چې هغه د دیورند په کرښه

مشهوره ده . ددې دواړو د کرښي منځ علاقې نه ئې قبائیلي علاقه ووی

په دې کې انګریز اجنبي او قبائیلي رپا ستونه قایم کړه او په دې علاقه

کې انګریز خپل موجودیت د پولیټکل اجنټ په ذریعه ظاهرولو یا ښودلو .

دشوروی اتحاد سره چې د افغانستان کرښه راکښله کیده نو ښري ئې یو

انګریز چې سایمن نو میده په غاړه لړله د دیورند او آمو ترمنځ انګریزانو

خپله بالا دستی قایم ساتله . موږ د آمو څخه تر اټکه پوری دی نه

پښتونخواه وايو او دی کی څمونږ يووالی او قوت دی . دا خاوره
په تاريخ کی د زرګونو کلونو راهيسې د پښتونخوا په نامه يادېده لکه
څرنګه چې احمدشاه بابا وائی

د ډهلي تخت هېروومه چې را ياد کړم
زما د ښکلي پښتونخواه د غرو سرونه

انګريز دلته يو استعماری نظام پر پښتنو د چې دا څمونږ لپاره ډېره خرابه ده .
د انګريز مطلب دا و چې پښتانه يې په طبقاتو تقسيم کړل او کسبګر پښتانه
يې د پښتونولۍ نه وويستل او د پښتنو په نظر کې يې کسب سپک ښکاره
کړو .

څه لنډ يې په کسبګر ، مينا ، ملا تقسيم کړه او د پښتنو وحدت يې مات
کړو . زمونږ سره نور ميلمنو نه هم د زرګونو کلونو راهيسې په پښتونخوا
کې اوسي چې دا د پښتنو سره ديو ګډ دستي د ګټونو په شان پيوند
دي د ګډ دستي چې کوم د ښځه ګډ وو او تورې وهونکي متې وې
دا د پښتون وی د غه ګډ يې پالڼ کړو د غه پښتانه يې سره
بيل کړل د پښتون د بيا وحدت لپاره قوت لپاره او د لراو
بر پښتون د ګټو لپاره به دا استعماری نظام له منځه وړل کيږي او طبقات

به دیخهٔ ښي . په کوم نظام کې چې یو د بل وینه څښي وحدت نه کیږي ی ددې
لپاره پاچاخان راپاڅیده او هغه اولني پښتون دی چې هغه د توري
په زور نه، هغه د سردار په حیث نه، بلکې د پښتون په حیث یې په مبارزه
شروع وکړه هغه کسبګر او پیشه ور خلک ته لکه د یو ورور په شان احترام
وکړ او وې ویل چې تاسو کې تنهیدونکي هغه دي چې کار کوي او خواري
نه راوړي او یوه ناره یې وکړه

ګړ سپوره وي او که پوره وي سره په شریکه به وي
پاچاخان دغسې د لاندې نه سره چل اولس یو کړ او د انګریز غوندې
قوت ته یې ماتې وکړه .
اوس د نوړ انقلاب د دې استعماري نظام د بیخه وېستلو لپاره ییخ ته
راغلو داد دې بیمې انقلاب دی د عوام او خپلې اولس انقلاب
دی موږ هغه وخت هم دا انقلاب مهم ګڼلو او اوس یې هم
ګڼو ځکه دا یقین دی چې خلقیان او پرچمیان اوس په یو ګوندکې
سره د دې نظام د ټینګښت لپاره شریک ولاړ دي د وی بنه او عوامي
نظریات لري . او د چل اولس لپاره د ابادئ او سوکالۍ هلې ځلې
کوي . ځکه اوس هم دا یقین دی چې چېدا خلک به د اوسنۍ پېښو
مشکل په ښه توګه سره حل کړي . ځکه د هغوی کار یو سیاسي

بصیرت او لارښوونه لري . ځګوږ د پر لوستي کسان د دنیا د انقلابونو
نه خبرېږي د هغوی د ګوټ ګوټ نه خبرېږي خو که د خپلې سیمې پوښتنه ترې
وکړي خبر نه ئي . اصلي خبره دا ده چي موږ د خپل چاپیریال څخه خبر یو
موږ باید د خپل چاپیریال څخه خبر شو . او خپل وطن د عظمت مقام ته ورسو .
د ثور انقلاب د دوره مهم قدم دي چي د دنیا سامراجي قوتونه سمدستي
په لړزان شول او ځګوږ غربي خاوري ته ئي خپل لاس او ښکر را ور ښکاره
ځکه دي انقلاب د هغوی ګټي په خطر کي واچولي . د ګوري هغه عرب
چي اسرائیلو تري خپله ځمکه نیولي ده او هر وخت ئي د هغوی
هم د پښتو بوجي په شا ځګوږ خاوري ته را ورسیدل . اسلام د کوم
شي لپاره چي راغلي وو عربي شیخان اوس د هغې په خلاف کار کوي
دوی ځګوږ د پرمختګ لاره ونیوله او موږ ته ئي حالات د دوره
خراب کړل چي اوس هره څه تیاره په نظر راځي . دا هم بنو
چي ځګوږ . نه هم علمي شوي دي نن د پښتنو سیمه ورانه شوه پښتانه
وژل کیږي او چي ورځ تیریږي موږ په خپل کور کي کمزوري کیږو . ولو
کوم قوتونه چي د اسلحې په طور موږ استعمالوي قوي کیږي .
زه نن دي ته حاضر یم چي د ټولو پښتنو سره حرف د نظر او سیاسي کړنلارې
خبري وکړم او دا په ډاګه کړم چي نن دلته د پښتنو د تباهي مخنیوی وکړو

او موږ باید خپل اختلافات یو خوا کړو او خپلې مختلفې لارې پرېږدو او یو بل ته رانژدې شو او د وطن د ابادۍ او ازادۍ لپاره لاس ورکړو پښتانه خلکو خو پرېږده چې پښتنې پېغلې هم د هرڅه نه مخکې په میدان ور ولاړې وي اوس باید موږ دې جنډې ته راشو چې څنګه کولی شو چې ځان د دې کړکیچ نه خلاص کړو.

پښتانه نسلي، ژبني، مذهبي، کلتوري، جغرافیي او اقتصادي وحدت لري خو بیا هم د ډیورنډ کرښې د لاسه په پنځۍ دوه نیمه پراته دي د دې تقسیم باوجود هم د پښتون شپونکي او پاونده په دې مجبور دي چې د ژمي په ددې کرښې نه راتېرېږي او تر بنو او ډېره اسماعیل خان ته راځي چې په تاریخ کې ورته میدان وائي او د اوړي په دوې د کرښې نه پورته اوړي او تر مزار او هلمند پورې په ځي. دا کرښه چې انګریز شل ګونه کاله مخکې راکښلې دی ده. (۱۸۹۳) څلوېښت کاله کېږي چې انګریز په خپله جزیره ورننوتی دی خو موږ لا همغسې تقسیم پراته یو. څموږ مرام او هدف د پښتنو یووالی او وحدت دی. دا څموږ لېږي هدف دی.

نن څموږ اوله او مهمه مسله دا ده چې د پښتنو وینه توئیول ودرېږي کورنه وران شول ملکونه وران شول نن د دنیا قومونه سپوږمۍ ته وختل او په فضا کې ګرځي خو موږ خپله د ځان تباه کولو لپاره ملاتړلې

۵ . باید موږ ټول په دې اړخ پوره غور او سوچ وکړو چې تباهي نبده
شي او د ابادۍ او سوکالۍ لار را وباسو . په دې لړکې زموږ پښتانه
وروڼه چې په خارج کې دي او نظریاتي خلک دي ډیر لوی کار کولی شي
تاسې زیاتره لوستي او نظریاتي خلک یئ او تاسې داسې امکانات
لرئ چې اواز دنیا ته رسولی شئ موږ تاسې هر یو کس دلته د یو عنصر
په حیث منو او تاسې کې یو کس هم اواز قدري وکړي نو دنیا ترې خبریږي
اوس موږ تباه شوي یو او تباه کیږو او ځکه په نظر هغه رښتیا هم راځي چې
هغه د وحدت او کامیابۍ واضحه رڼا ده چې هره وینه نیټول ضیاع ته ځي ددې
نه څخلي دنړۍ قوتونه ځکه موږ نه بې خبره دي او اوس دنیا د پښتنو په ژبه
نشرات کوي . دنړۍ قوتونو د پښتنو ن قوم د یو قوم په حیث وپیژندو
او دې مسلې د پښتنو د وحدت او یو کیدو لپاره د یوې حده پورې
لاره هواره کړه .

که پښتانه وپښتنې شول نو دا نظام به ډیر ژر ختم کړي او دا الوږي
به د منځه یوسي او که دې اوس هم را وپښتنې نه شو اوس تاسې هم طبقات
لرئ نه کمرل نو دا لویه تباهي ده او دنیا امید د کامیابیدو کم کیږي چې
کله د پښتنو ن وحدت وشو نو دغه تباهي به تول له منځه لاړه شي او
د وطن ابادي او سوکالۍ ته به د دوی فکر شي

د افسوس خبره ده څومونږ چې پیدا کیږي څومونږ کوردونه ورانیږي
خو غرز د جهاد کیږي . زه هم ته تلی یم هلته د دنیا مسلمانان سره راغونډ
وی زه به دعوه دا خبره کوم چې د پښتنو په شان اسلام په بل یو قوم
کې هم نشته اسلام حرف زمونږ عقیده نه بلکې څومونږ کلتور کې هم شامل
دی نن د مذهب په نامه زمونږ وینې توییږي او د مذهب په نامه امداد
څوک کوی ؟ امریکا او د هغه ملګري . جنګ د اسلام دی او
وسله څوک ورکوی ؟ امریکا ، چین ، انګریز ، فرانسه او نور .
هغه عرب چې د دې جنګ لپاره پیسې را رسوی د هغوی حال دا دی
چې بیت المقدس نن اسرائیلو اخستی دی او جهاد د په پښتنو کوی
زه د دې خبرې عرض کول غواړم چې څومره ما د ځوانانو او ګرانو
سره خبرې کړې دی دا د افسوس خبره ده چې دا ملوک د مایوسی
خبرې کوی او ځان ډیرې وسه بولي د پښتنو یو متل دی
چې سند اګمان خبلیږي - نو څنګه ځان پلنبني چینچي کیږي
مونږ د هرڅه نه زیات پښتانه او مسلمانان یو مشکلات به ډیر زیات
وی خو زه دا یقین لرم چې مونږ هر یو به ذمه واری را پاڅو او خپلو
ذمه واری باندې فکر وکړو او ادا ئی کړو نو دا مشکل به ډیر ژر د ینګه
لاړ شی . د دې لپاره عالمی جرګې هم کیږي .

پاچا خان دا خبره په اول سر کې کړې چې جنګ د روس او امريکې دی
خو کور په کې د پښتون وران يږي .
د پاکستان اخبارونو د اپروپاګند شروع کړی چې دی د اسلام خلاف
خبرې کوي . اوس خو امريکا او شوروي اتحاد د افغانستان په مسله
خبرې کوي نو دا ښکاره شوه چې په دې مسله کې لوی طاقتونه په راه
راست ملوث دي . د دې مسلې د حل کولو لپاره چې امريکا او شوروي
کومې خبرې کوي او يا پاکستان او افغانستان په جينوا کې د کورډويز
په ذريعه بالواسطه د افغانستان د مسلې د سوله ايز حل د رااېستلو لپاره
خبرې اترې کوي موږ د دې دواړو قدرداني کوو . خو وايو دا چې
دوی مسله نه ده که دا مسله نوره هم اوږده شي نو موږ لپاره به
نور مشکلات هم راپيدا شي . نن زموږ ورونه په خيمو کې اوسي او د ژمي
په سړو کې ندو لو مشرانو په مالوګې ژوند کوي . او اوس که د دې مسلې
حل پيدا نشو نو په دغه کې به يو داسې نسل ځوان شي چې د هغه فلسطيني
نسل چې په خيمو کې رالوی شوی دی نه به هم زيات ردګال وي او
دا به نه يوازې د پاکستان او افغانستان د ابادۍ او سوکالۍ لپاره يو
لوی خطر وي بلکې د عالمي امن لپاره به يو لوی تاوان وي او عالمي دهشت ګردي
به لا زياتې شي د لته موږ د فلسطينيانو د حقوقو څخه پوره ملاتړ کوو ځکه چې

د دغو غلیمانو لپاره ډېره د استوګنې ځای نشته او حقوق ئې
غصب شوي دي .

د افغانستان د سولې د دوه حل کولو لپاره موږ اسانه لاره په ګوته کوو او هغه داده چې په دې لږ کې دې په پاکستان کې د پښتو پښتنو د مشرانو د جرګې نه کار واخستلې شي . د دې جرګې غړي به هم پښتانه وي او د جګړې فریقین هم پښتانه دي د دې لوی لوی د دستور او تېره یوه د ٥٠ د پښتنو د سدو راهیسې کم کښې معاملې حرف د جرګې په لارې په سوله اېزه توګه سرته رسېدلې دي دا جرګه به اول دیو فریق سره جرګه او مرکه وکړي اوچې یوې روغې ته ورسیږي نو بیا به د بل فریق سره جرګه او مرکه شي خو داچې کله لوی لاقتونه ونه غواړي نو اشنانه نه ده څکه چې بنکاره خبره ده چې څومره موږ په وینه هغوي خیل عالمي سیاست چلوي دا به هیڅله سرته ونه رسیږي چې لوی لاقتونه په پاکستان او افغانستان اثر وا چوي چې دې جرګې ته لاره هواره کړي . باچا خان څو ځلونه ځکه هم د دې جرګې لار ښودلې ده او د افغاني کډوالو مشرانو ته ئې ویلي ده چې سره کښینو او د دې فساد د ختمولو لپاره سره په جرګه یو حل را او باسو چې کوم لږ دیر مشران د باچا خان په دې غوښتنه جرګې ته راغلل نو په پاکستان کې د هغوي را شنونه ونه منل شول او د پاکستان پټ پولیس په هغې پسې

مشول .

همدا وجه ده چي زه ددي تجويز پيش کولو لپاره المان ته راغلی یم
او که نه دجرگی ممبران چې په پاکستان کی دي افغان کډوال هم په
پاکستان کی دي او دافغانستان خلک او والمن هم زیونز سره په
پوله پراته دي خو ظاهره ده چي دالار حل په کاميابيدی شي چي په لويو
طاقتونو کی دعالمی رائي عامه له طرف نه زور واچول شي چي هغه د
افغانستان دمسلي دسوله ایز حل لپاره په خپله اماده شي او په پاکستان
او افغانستان داسي اثر واچوي چي دی جرگی ته لاري چاري جوړی
کړی . که دا طاقتو نه په رښتيا دبي وسه انسانانو دينه تونئيدل
منډول غواړي نوزه يقين لرم چي داجرگه به په سوله ایزه توگه د
افغانستان مسله ډیر ژر حل کړی .
دلته زه دالمان اوس خلکو او د دنیا نورو مهذبو او اولسی
جمهوری گوندونو نه دا توقع ساتم چي هغه دي لمړي په عالمي طاقتونو
دا اثر غوړځولو لپاره خپلي هلي ځلي وکړی او د خپلو پینټو وروڼو چي په
آلمان کی او نورو یورپي او بهرنی ملکونو کی دی دهغوی نه دا ګلک
امید لرم چي هغه دهر څه نه اول دخپل تمام او وطن دخلاصون
او سوکالی لپاره خپل لمړل کوښښونه پیل کړی چې دمهذبي دنیا

دغه انسان دوست او غریب پال لماقتونه راپاڅوی
زه په آخره کې بیا د پښتنو د ټولنیز ولسولیز ګوند د مشرانو څخه او د
عوامي نشنل پارټي څخه او د ځان څخه ستاسې څخه غوښتنه کوم
چې په دې غونډه کې مو برخه اخستې ده او زه په دغه لار کې د تل
لپاره د قربانۍ لپاره حاضر یم.




خان لالا محمد افضل خان په فرنکفورت کې د پښتنو په لویه غونډه کې
(۱۹۸۶/۱۱/۲۹)

# د خوا بخلی افضل بنګښ په یاد

پښتون سیاست مدار افضل بنګښ په پېښاور کښی د ۱۹۸۶
کال ډاکټر په ۲۹ نیټه خاورو ته وسپارل شو. د ده د
ښخولو په مراسمو کښې د لرې او برې پښتونخوا زیات
شمیر نامتو شخصیتونو برخه اخستلې وه.

افضل خان بنګښ د مزدور کسان د پارټی
بنسټ ایښودونکی او مشر و. د پښتنو د آزادۍ
او سوکالۍ د پاره ئې نه هېریدونکې خدمتونه کړې دی. د
پښتنو لوټیز او لویز ګوند د افضل بنګښ مړګ د
پښتنو اولس د پاره یو نه پوره کېدونکې تاوان ګڼي.
او د ده د خپلوانو او رشته دارانو سره خپله همدردي او
خوا خوږي ښکاره کوي. افضل بنګښ د پاکستانی
ډکټاتورانو او جنرالانو د زور زیاتی او ظلم له کبله
داخېل شو، آخرنې شپې په جلاوطنی کښې په انګلستان
کښې تېرې کړې دی. دغلته هم ده د تمام او وطن
خدمت ته ملا تړلې وه. او د ۱۹۸۵ کال د
اګست په میاشت د سندیانو، بلوڅو او پښتنو د

دفرنټ ( جبهې ) بنیاد کیښود - او د وفات څخه لږ موده
مخکښې کورنۍ پښتونخواه ته لاړه - د افضل بنګښ شروند او
تاریخ په حوالو کښې راغونډیدی نه شي بلکه کتابونه غواړي -
مونږ دلته د ده خپل لاس د لیکل شوی شخصی ( ذاتی )
لیک یوه برخه چه د ۸۵ - ۱۲ - ۱۹ کال کښې د برمنګهم
څخه د پښتو دلمولیز اولسولیز ګوند مشر ډاکټر
ستوری ته رالیږلی او خپرو -

دی د خپل لیک په یوه برخه کښې لیکلی -

" زمونږ سیاست په موجوده وخت کښې قومی طرف ته
روان دی. زمونږ د ګوند مزدور کسان پارټۍ داخیال
دی چه پاکستان کښې څلور بنیادی تضادات دی، یو تضاد
قومی تضاد دی - بل طبقاتی تضاد دی. بل د اولس
او نظامی قواؤ ترمنځه جمهوری تضاد دی او بل د پاکستان
او استعمار ترمنځه تضاد دی - دی څلورو تضادونو
کښې کله یو تضاد اولیت حاصل کړی کله بل تضاد -
خو څلور واړه تضادونه په یو وخت کښې موجود دی.
نن صبا قومی تضاد او جمهوری تضاد اولیت حاصل کړیدی
او دوی په شا استعماری تضاد هم ولاړ دی - زمونږ

د قومي تضاد د حل کولو د پاره د کنفدریشن تجویز وړاندې کېږي. زمونږ خیال دی چه پاکستان څلورو واړه قومونو (پنجابیان، سندهیان، بلوڅو او پښتنو) ته مکمله خود مختاري او حکومت (Autonomy & Sovereignity) حاصله شي زمونږ څلورو واړه قومونه د برابرۍ په اساس یوځائې شړ ونډ کولی شو - خو دا یو ډیر مبهم تجویز دی. او پنجابیان او عسکریان ئې په آسانه نه مني نو که په آسانه نه مني نو بیا پدې به ضرور جنګ کیږي.

د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند د ارواښاد روح ته یوځل بیا دعا کوي.

خبریال: سید عاشق الله

# نوی نښتې

کوټه :- وروسته د ځغی چه د افغانستان د خلک

د ډیموکراتیک ګوند دعموی مونشی ډاکټر نجیب په بلنه د

پښتنو د ټولنیز او لسولیز ګوند یوه ډله چی د ګوند د مشر د

لومړی مرستیال علی خان محسود په مشری د ۱۹۸۶ ع کال د

نومبر په میاشت کښې په کابل کښې د افغانستان د خلک د

دیموکراتیک ګوند دعموی مونشی ډاکټر نجیب ، د قومونو او

قبائیلو د چارو د وزیر سلیمان لائق د سیاسی دفتر د غړی

څیری او د دغه ګوند د نورو شخصیتونو سره د افغانستان

د راتلونکی په باره کښې د نظریو بدلون وکړ . د ډاکټر نجیب

له خوا د پښتنو د ټولنیز او لسولیز ګوند مشر ډاکټر ستوری

کابل ته د خبرو د پاره میلمه شوی دی . ډاکټر کبیر ستوری

د دغه میلمستیا منلی او د روان ۱۹۸۷ ع کال د اپریل

په میاشت به د ډاکټر ستوری په مشری د

پښتنو د ټولنیز او لسولیز ګوند یوه ډله ګی د افغانستان

د خلک ډیموکراتیک ګوند د مشرتابه سره د خبرو د پاره

کابل ته لاړه شی

پښناور :- د روان کال د مارچ د میاشتی په اوومه نیټه
په پښنور کښی د ارباب سکندر خان خلیل د شهادت څلورم
تلین د ارواښاد په پلرنی مدیره کښی ولمانځل شو .
دلمانځلو په غونډه کښی د پښتنو ستر ملی مشر باچا خان
« فخر افغان » او د عوامی نیشنل پارټی مشرانو او د پښتون
ستوډنټس فیډریشن شاړلمو او د لری او برې پښتونخوا
نورو ګڼی شمیر نامتو شخصیتونو ګډون کړی و .- د ناودو
وینا ګانو څخه وروسته د ارواښاد په قبر باندی د ګلونو ګیډۍ
او څادری وغوړول شوی .
د پښتنو د لیکوالنیز اولسولیز ګوند استاذی په دغه تلین
کښی د ګوند د صدر دی پیغام ذمه وارو کسانو ته ورساوه .
نوموړی ګوند یوځل بیا فیصله خواخوږی د ارواښاد
سکندر خان خلیل کورنی سره ښکاره کوی . او د
ارواښاد روح ته دوعا کوی .

کولن :- د پښتنو د لیکوالنیز اولسولیز ګوند مشرتابی
د ګوند د سلووال څوک « ننګیالی پښتون » ته
سپارښت کړیدی چه د پښتنو د دود دستور
سره سم د افغانستان د حکومت د سولی او

او ر بند پیشنهاد او منی -
د پښتو لموِلیز او لسو لیز گوند د افغانستان د لانجی
د حل او د شرروی پوځونو د وتلو د پاره روغه جوړه
یوازنی امکان گنی . لدی امله د افغانستان د
واکمنو د روغی جوړی د پیشنهاد ملاتړ کوی -

---

## شاعرته .

تا خوشحل یو دغالتول ئی . زړغونی شوی پښتو نخوا کی
شگوفه دی دمینی لاهم . ده صفحه پاکه هوا کی
